راتولونکی: محمد عارف رسولي ۲۰۱۶/۱۲/۲۳

د چين هيواد ته د يوه علمی سفر لنډ راپور

سريزه:

په دې ليکنه کې د هغه نړيوال ورکشاپ او د هغه د ځينو سپارښتنو په هکله مالومات ورکړل شوي دي چې د چين په هيواد کې د نړيوال بانک او د چين د دولت په ګډه همکارۍ د هوا، ځمکې او اوبو د ککړوالي د مديريت او صحت محيطي په هکله رابلل شوی و. په دې ورکشاپ کې د امريکا د متحده ايالتونو، اروپايي اتحاديې، نړيوال بانک او چينايي کارپوهانو پريزنتشنونه وړاندې کړل.
دا ورکشاپ په حقيقت کې د هغه پروګرام د ارزوني په هکله و چې نړيوال بانک د ځينو پرمختللو ملکونو او تمويل کوونکو په مرسته د دريمې نړۍ په ملکونو کې د هوا، اوبو او ځمکې د ککړوالي د مديريت په هکله يو کال مخکې له مصر، چين، هند، ويتنام، سويلي افريقې او ګانا سره په لاره اچولی و. او اوس غواړي چې که ممکنه وي نورو ملکونو ته يې هم وغزوي.
ما به دې هکله خپل دفتر ته کاري راپور په انګريزي ژبه وړاندې کړی او دلته له درنو لوستونکو سره د هغو د ځينو برخو ژباړه شريکوم. په دې کې په پورته ياد ورکشاپ کې د ځينو پوهانو په نظرياتو او هم د نړيوال بانک له سرچينو څخه د افغانستان لپاره د چاپيريال د ککړوالي د ستونزو په هکله ځيني مالومات شته. هيله ده چې ګټور به وي.
په چين کې د چاپيريال د ککړوالي په هکله نړيوال ورکشاپ څو ورځې وړاندې په يوه علمي سفر د چين هيواد ته له ځينو دولتي دوستانو سره د نړيوال بانک په بلنه تللی وم چې د « چاپيريال د ککړوالي د مديريت او چاپيريالي روغتيا» تر سرليک لاندې په نړيوال کنفرانس کې برخه واخلم. د زده کړې تر څنګ هيله داده چې که خداى ته منظوره وي د خپل هيواد لپاره د ورته پروګرام په امکاناتو فکر وکړو او ورته وده ورکړو.
د هيواد په ښارونو په تيره بيا په کابل کې کې د هوا، خاورې او اوبو ککړوالی ورځ تر بلې زياتيږي. سړی خوب يوسي چې که يې سم غم و نه خوړل شي، لس کاله وروسته به د کابل او نورو سترو ښارونو د هوا، اوبو او خاورې ککړوالی په خورا بد حالت کې وي او بدې اغيزې به يې زمور په بيوزله خلکو او زمور په ملي اقتصاد څومره ځوروونکې وي او بيا سمول به يې لسيزې وخت غواړي.

د ورکشاپ موخې:

* له ټاکل شوو ملکونو سره مرسته وشي چې د هوا، ځمکې او اوبو د ککړوالی کچه په کافي توګه راکښته کړي ترڅو د چاپيريالي روغتيا پايلې اصلاح کړي،
* نوې پوهه خلق کړي او د ککړوالي او په ښاري، کليوالو او اوبو ساحو کې دهغو د روغتيايي اغيزو په هکله زمور پوهه اصلاح کړي
* چې د چاپريالي روغتيا او د ککړوالي پوهاوی په پاليسي جوړوونکو، پلان کوونکو، او نورو اړوندو ذي النفع کسانو کې په لږو، متوسطه او د منځنۍ کچې په ملکونو عوايدو لرونکو کې لوړ شي.

په دې علمي ورکشاپ کې د هوا د ککړوالي تر څنګ د خاورې او اوبو ککړوالی هم شامل وو خو زياته پاملرنه اوس د هوا ککړوالي ته وه. په ورکشاپ کې زيات بحثونه د ښارونو د هوا د ککړوالي په مسئلو، لاملونو، زيانونو، ننګونو، د مديريت په لارو چارو او نورو باندې وو. هلته مو د نړۍ او چيني کارپوهانو پريزنتشنونه واوريدل، په عملي توګه مو د بيجنګ او اوبې ښارونو د هوا د ککړوالي د نظارت او ارزوني لابراتوارونه، تخنيکي اسانتياوې او الي وليدې. همدارنګه، و مو ليدل چې څنګه، د چين په هيواد کې په پوهنتونونو او د علومو په اکاديمي کې چې په لسهاوو څانګې لري چيني کارپوهان په علمي او عملي څيرنو لګيا دي، د هوا د ککړوالي پيچلي لاملونه او ننګونې پلټي او د مديريت لاري چاري ورته مومي. هغوي دا کار د خپلو پنځه کلنو پلانونو په مرسته کوي، تل يې ارزوي، قوانين او مقررات

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

يې له نوو ستندردونو، نړيوالو پرمختګونو، نوې تکنالوژۍ او نورو سره ارزوي، په کمښتونو يې ځان پوه کوي او ورځخه زده کړه کوي او اړين بدلونونه پکې راولي.
کارپوهانو له مختلفو ملکونو په دې تاکيد کاوه چې د هوا د کيفيت مديريت يوه پيچلې مسئله ده، زيات اړخونه او لاملونه لري او زياتې اړونده اداري، سکتورونه او لوبغاړي په ځان کې رانغاړي. هغه د راز راز دولتي ادارو مشارکت او نيږدې همکاري غواړي، د مثال په توګه، د محيط زيست اداري، د انرژۍ او اوبو، ترانسپورت، کرنې، کورجوړولو او نور وزارتونه، شاروالیګاني، پوهنتونونه، څيړنيز سازمانونه او نور بايد له يو بله سره يو ځای کار وکړي ترڅو د بنارې هوا کيفيت مديريت کړي.
په دې حقيقت زيات تاکيد کيده چې که تاسو غواړئ کوم شی مديريت کړئ نو بايد هغه اندازه کړئ. د هواد کيفيت او د هوا د ملوث کوونکو عناصرو په هکله هم دا خبره سمه ده. نو ځکه، دا زياته مهمه ده چې د هوا د ککړوالي پارامترونه نظارت، اندازه او داتا راټوله، تحليل، پاليسي جوړوونکو ته په مالوماتو بدله او په اختيار کې ورکړل شي.
زيات تاکيد په دې و چې دولتي اداري بايد اړونده کارمندان وروزي، د قوانينو او مقرراتو د پلي کولو لپاره سياسي اراده پخه او وړتيا لوړه شي. د اړوندو دولتي ادارو، اکاديميکي نهادونو، رسنيو او نورو سره په پلان کولو او همغږي کولو کې شته تشې ډکې شي.
بل تاکيد دا و چې د چاپيريال ساتنې اداري او سکتوري وزارتونه بايد د محيط زيست د سالم مديريت او هم د سکتوري پلانونو او تګلارو په جوړولو کې په ګډه کار وکړي. که يوازې د محيط زيست اداره د نورو سکتوري ادارو لپاره د چاپيريال ساتنې مقررات جوړوي په عمل کې په بريالیتوب نه شي تطبيق کيدلای. همدارنګه، که سکتوري اداري خپل پلانونه د چاپيريال ساتنې د اداري په غياب کې جوړوي ممکنه نه ده چې محيط زيستي مقررات د سم پلي کړي او له قانونه د سرغړونې ونه کړي.

د چاپيريال د ککړوالي د مديريت او چاپيريالي روغتيا لس کاري بستې:

نړيوال بانک چې ځينو ياد شوو هيوادونو سره د چاپيريال د ککړوالي او صحت محيطي کوم پروګرام رامنځته کړی دی دا لاندې لس کاري بستې لري: (۱) ميتودونه او پروتوکولونه، (۲) په هوا کې د معلقو ذرو نظارت، (۳) د هوا د کيفيت نظارت، (۴) د افرازاتو پلټنه، (۵) د ککړوالي د سرچينو مالومول، (۶) روغتيايي اغيزې، (۷) نهادونه او ذی النفع خواوې، (۸) د هوا د مديريت د قيمتونو ارزونه، (۹) د هوا د کيفيت د مديريت پلان کول، (۱۰) د پروژې مديريت. که د دې بستو لړۍ سمه پلي نه شي او له يو بل سره اړيکه ونه لري د هوا د کيفيت په سمون او پاکوالي کې کوم مثبت بدلون اړين نه بريښي.

په افغانستان کې د هوا د ککړوالي زيانونه:

د هوا ککړوالی په ربښتيا يوه نړيواله ننګونه ده، د هوا د ککړوالی وژونکي خطرونه د روغتيايي او اقتصادي زيانونو سبب کيږي. دا ستونزه په پرمخ تلونکو هيوادونو کې چېرې چې په نا اندولە کچه مړيني زياتې وي ډېره ورانوونکې اغيزه لري. د ککړوالي بار د ټولنې په بيوزلو برخو زيات وي، ځکه فقير خلک تر ډېرې کچې په ناپاکو ځايونو کې ژوند او کار کوي، لږ کولای شي چې ځان وساتي، او لږ توانيږي چې روغتيايي درملنه ترلاسه کړي او يا له هغه اقتصادي ټکان سره مقابله وکړي کوم چې د دوي په فاميل باندې ناروغيو راوستي وي.
په افغانستان کې د هوا د ککړوالی وژونکي اغيزه په زياتيدو ده، خو ځکه عام خلک نه وربانديې پوهيږي چې د دې وژنه زياته ښکاره نه ده او ناروغۍ يې رنګارنګ ډولونه لري. ځرنګه چې نفوس زياتيږي، زيات خلک د ککړې او نا سمې هوا سره مخ کيږي. د هوا د ککړوالي روغتيايي خطر په يوه ټولنه کې د خلکو د معروضيت له مخې ټاکل کيږي. په ۲۰۱۳ ميلادي کال کې هغه کسان چې په افغانستان کې د باندنۍ ککړې هوا سره مخ وو، د نړۍ د روغتيايي سازمان د معيار څخه دوه ځله زيات وو. د افغانانو نيږدې له پنځو برخو څلورمه برخه د سون په جامدو توکو تکيه کوي، نو ځکه د هغو خلکو شمير چې په کور د ننه د هوا د ککړوالي سره مخ دي په ۱۹۹۰ له ۱۲ مليونه څخه په ۲۰۱۳ کال کې و ۲۵ مليونه ته ورسيدل.
د هوا د ککړوالي د زيات معرو ضيت له کبله په افغانستان کې بيوخته مرګونه په ۱۹۹۰ کال کې له ۲۰،۰۰۰ څخه په ۲۰۱۳ کال کې و ۴۰،۰۰۰ ته ورسيدل. اوس د هوا ککړوالی په ملک کې دريم وژونکی روغتيايي خطر بلل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کيږي. په افغانستان کي د هوا د ککړوالي له کبله د توبرکلوز، نس ناستي او ايډز ټولو ناروغيو له يو ځايي مرګونو څخه زيات شمير خلک خپل ژوندونه له لاسه ورکوي. ماشومان تر ټولو لوړ بار په اوږو لري.
د هوا د ککړوالي اغيزې د افغانستان د اقتصاد لپاره ناوړه او ستري دي. هغه بې وخته مرګونه چې د هوا د ککړوالي له کبله په افغانستان کي رامنځته شوي وو د کار و کارګر په ساحه کي په ۲۰۱۳ کال کي يې د ۱/۲ ميلياردە امريکايي ډالرو عوايدو ضايعات لرل او دا د افغانستان د ناخالصه ملي عوايدو ۲/۱ سلنه نه وه. که تاسو دا د اقتصادي ښيرازې په کچه وتلئ، د هوا د ککړوالي له کبله د بيوخته مړينو تاوان نور هم زياتيږي، او په ۲۰۱۳ کال کي ۴/۳ ميلياردو امريکايي ډالرو ته رسيږي، چې دا رقم د هيواد ملي عوايدو ۷/۵ سلنه جوړوي.
د هوا ککړوالی له راز راز سرچينو رامنځته کيږي، دا داسي يوه ننګونه ده چې د حکومت زياتي اداري په ځان کي بوخټوي، لکه ماليه، روغتيا، چاپيريال ساتنه، انرژي، صنعت، ترانسپورت، کرنه، کور جوړول او نور. ملي او محلي اداري بايد له يو بل سره يو ځای کار وکړي تر څو داسي تګلاري وپيژني چې د عامه خلکو مخامخ‌توب (معروضيت) له ککړې هوا سره راټيټ کړي. د ښه کيفيت لرونکي داتا او مالوماتو راټولول د هوا د کيفيت او د هوا د ککړوالي د سرچينو په هکله سمه پوهه لمړني اړين قدمونه دي. د افغانستان د خلکو په روغتيا او اقتصاد د هوا د ککړوالي بار د لا زياتې عامه پانګوني غږ کوي تر څو د افغانستان هوا پاکه کړي.
د افغانستان په لويو ښارونو او په تيره په کابل کي د ښاري هوا ککړوالی د ښاري ترانسپورت له کبله چې بې کيفيته تيل سوزوي، زيات سرويس نه کيدونکي زاړه موټر او د ټرافيکو نه مديريت چې په خورا لږ سفر کي زيات تيل مصرفوي؛ د انرژۍ د توليد جنريتورونه او شته وړې او يو څو غټې فابريکې، واړه او د منځنۍ کچې کار و بارونه چې شمير يې زيات دی؛ د لرګيو، زغالو، او تيلو سون د پخلي او کور ګرمولو لپاره؛ د خامو سړکونو، کوڅو او نورو ساحو څخه ګردونه او دوړې هوا ته راپورته کيدل؛ او همدارنګه، د ښارونو څخه د باندې له نباتي فرش څخه لوڅو او تخريب شوو دښتو، غونډيو او غرونو څخه د باد په مرسته د ګردونو او دوړو راوړل، د خښتو د بټيو ډبرښت او د ښارونو په چاپير کي او په هغو کي د لرګيو، ربړونو او زغالو سون، په ځينو روغتونونو کي د روغتيايي بيالوژيکي طبي فاضله موادو چې سيماب او نور درانده فلزات هم ورسره ګډ وي په بې کيفيته انسرينتورونو (د حريق په الو) کي سوځول، د قوانينو او مقرراتو نه پلي کيدل او نور داسي لاملونه دي چې زمور د ښارونو هوا يې ککړه کي ده.
د هوا د ککړوالي د کچې مالولو لپاره ځينې ځانګړي پارامترونه ټاکل شوي دي. دا په هوا کي هغه ذرې دي چې قطر يې ۱۰ مايکرو ميتر(PM 10)، هغه ذرې چې قطر يې ۲/۵ مايکروميتره وي (PM2.5)، سلفردای اکسايد، نايتروجن اکسايد، کاربن مونو اکسايد، اوزون، نور نايتروجن اکسايدونه(Nox) ، امونيا او نور عضوي مواد دي. دا پارامترونه په هوا کي د راز راز ککړتياوو شتون راښيي. د مثال په توګه د ۲/۵ مايکروميتره زرو شتون کيدای شي د پورته ټولو سرچينو او يا د هغوی له ډول ډول ترکيبونو څخه راپيدا شي.

په ګران هيواد کي د ډيوه سالم چاپيريال په هيله!

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ